مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالوهاب باور

۲۰۲۶/۰۴/۲۶

# نظم

بې تابوته بې کفنه غونډې ښکاري
په وطن کې بې وطنه غونډې ښکاري

د پاچا که د امیر جبر وهلی!؟
ړوند مرید مې د کوم پیر جبر وهلی!؟

هم بې ځمکې شولې هم شوې بې اسمانه
اوس ته مړ شوې که ژوندی شولې افغانه!؟

چې نه مینه لري، نه پکې زړه سوی دی
دا سړی دی که په ختو کې چینجی دی

پر نړۍ شوو نمونه د کم سیالانو
تش راپاتې دي پېښې د انسانانو

یا مو خلاص له دې ژوندونه د ملخ کړې
یا دا ځمکه کړې دوه پړکه موږ ور ښخ کړې

یا باور ته د سکون ژوند ور ډالۍ کړه
یا یې خلاص له دې رنګین ټال د بوډۍ کړه



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ